پوره اودس وکړه او دګوتو مینځونه خلال کړه او پوزې ته په اوبو اچولو (استنشاق) کې مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه یې

د لقیط بن صبرةرضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: زه د بَنِي الْمُنْتَفِق د وفد استازی وم - یا د بَنِي الْمُنْتَفِق په استازو کې وم-، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورتلو، نو کله چې مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېدو هغه مو په کور کې ونه موند، بلکې مورِ له ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها سره مخ شو، وایي نو هغې امر وکړ چې زمورِ لپاره حلوا تیاره کړی شي، نو چمتو کړی شوه، وایي: او مورِ ته په یو قاب کې خرما راوړل شوې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی، نو وې فرمایل: «آیا تاسو څه وخوړل؟ یا ستاسو لپاره د خوړو چمتو کولو څه ویل شوي دي»؟ مورِ وویل: هو ای د الله رسوله! وې فرمایل: په داسې حال کې چې مورِ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو په دې وخت کې شپون رمه پنډغالي ته دننه کړه او یو ورځ ورسره وه چې رمباړې یې وهلې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «فلانیه څه شی یې وزېرلواوه؟» هغه وویل: ښځه بچې یې زېرولې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« پر ځای یې مورِ ته پسه حلال کړه» بیایې وفرمایل: «ګمان مه کوئ» چې ستاسو په خاطر مو پسه حلال کړ، زه سل پسونه لرم نه غواړم چې شمېر یې لدې زیات شي، کله چې د شپون په (رمه کې) ښځینه سېرلې وزېرېري، پر ځای یې مورِ پسه حلالوو» وایي: ما وویل: ای د الله رسوله! زه یوه پوچ خولې مېرمن لرم (یعنې تېره ژبه لري) رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: طلاقه یې کړه، هغه وویل: ای د الله رسوله! ما سره یې ډېر وخت تېر کړی او اولادونه تري لرم، وایي «نو نصیحت ورته وکړه» وایي: «نو که خبر پکی وي ستا خبره به ومني، او خپله ښځه دې د وینځې په څېر مه وهه» ما وویل: ای د الله رسوله! د اوداسه په باره کې معلومات راکړه، وې فرمایل: "پوره اودس وکړه او دګوتو مینځونه خلال کړه او پوزې ته په اوبو اچولو (استنشاق) کې مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه یې".

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي او ابن ماجه روایت کړی دی]

لقیط بن صبرة رضي الله عنه وایي چې هغه او د هغه د قوم؛ بني المنتفق نور خلک نبي صلی الله علیه وسلم ته استازي ورغلل، وایي: مورِ هغه په خپل کور کې ونه موند، خو مورِ د مومنانو مور عایشة رضي الله عنها وموندە، هغې امر وکړ چې مورِ ته له وړو او غوړیو څخه حلوا چمتو شي او مونږ ته یو طبق یا قاب راوړلی شو چې خرما پکې وي. بیا وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او وې ویل: "آیا تاسو ته کوم خواړه وړاندې شوي دي"؟ مورِ وویل: هو، لقیط وویل: پداسې حال کې چې مورِ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، د نبي صلی الله علیه وسلم د رمې شپون راغی چې رمه یې پنډغالي ته روانه کړې وه، او په غېږ کې یې یو وزګورې وه چې رمباړې یې وهلې، نو هغه وویل: څه شی یې وزېرګاوه؟ هغه وویل: ښځینه. وې ویل: نو پر ځای یې مورِ ته غټ پسه حلال کړه، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ګمان مه کوئ چې ستاسې لپاره مو هغه پسه حلال کړ، مورِ ۱۰۰ پسونه لرو، او نه غواړو چې شمېر یې له دې څخه زیات شي، نو کله چې نوی بچی وزېرېري، پر ځای یې مورِ یو حلال کړو، لقیط وویل: ما وویل: اې د الله رسوله! زما د ښځې ژبه اوږده ده او پوچې ویناوې کاروي، څه ورسره وکړم؟ هغه وفرمایل: طلاقه یې کړه. هغه وویل: ما وویل: اې د الله رسوله! هغه ما سره اوږده ملګرتیا لري او زه تري اولادونه لرم. هغه وفرمایل: نصیحت ورته وکړه، نو که خبر پکې وي په نصیحت به دې عمل وکړي، او که ستا پر نصیحت یې عمل ونه کړ داسې وهل ورکړه چې زیانمنه نه شي، او داسې یې مه وهه لکه څنګه چې خپل غلامان وهې. بیا لقیط وویل: اې د الله رسوله! ماته د اودسه په اړه خبر راکړه. هغه وفرمایل: د اوداسه پر مهال اوبه اندامونو ته ښې ورسوه، او هر غړي ته یې حق ورکړه، هېڅ یو فرض یا سنت یې مه پرېږده، د لاسونو او پښو د مېنځلو پر مهال دې ګوتې پرانیزه، او په پوزه کې اوبو کش کولو او ښه ترته رایستلو کې زیاته مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه وې، چې اوبه دې معدې ته لاړې نه شي.

